$$xe^{\tan^{-1}y}=\int t\ e^t dt+c \qquad t=\tan^{-1}y$$

$$xe^{\tan^{-1}y}=(t-1)e^t+c$$

$$xe^{\tan^{-1}y}=(\tan^{-1}y-1)e^{\tan^{-1}y}+c$$

$$\therefore \qquad x=(\tan^{-1}y-1)+ce^{\tan^{-1}y}$$

اتم مثال: $y\ln y\,dx+(x-\ln y)dy=0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله په لاندې ډول لیکو

$$\frac{dx}{dy}+\frac{1}{y\ln y}x=\frac{1}{y} \qquad P=\frac{1}{y\ln y}\ , \qquad Q=\frac{1}{y}$$

اوس دراکړل شوې معادلې دحل لپاره دانتیګرال فکټور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF=e^{\int\frac{1}{y\ln y}dy}=e^{\ln\ln y}=\ln y$$

اوس راکړل شوې معادله په لاندې ډول حل کوو

$$x\ln y=\int\frac{1}{y}\,.\ln y\,dy+c=\int t\ dt+c\ , \qquad \ln y=t \quad => \quad \frac{1}{y}dy=dt$$

$$=\frac{t^2}{2}+c$$

$$x\ln y=\frac{(\ln y)^2}{2}+c \qquad \therefore x=\frac{\ln y}{2}+\frac{c}{\ln y}$$

نهم مثال: $\frac{dy}{dx}=x\sin 2y=x^3\cos^2 y$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله یوه معیاري خطي تفاضلي معادله نه ده ، ددې لپاره چې معادله په معیاري شکل ولیکو، نومعادله په $\cos^2 y$ باندې ویشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\sec^2 y \frac{dy}{dx} + 2x \tan y = x^3 \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

په لومړۍ معادل کې په لاندې ډول تعویض اجراکوو

$$\tan y = t \qquad => \qquad \sec^2 y \frac{dy}{dx} = \frac{dt}{dx}$$

اوس لومړۍ معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{dt}{dx} + 2x\,t = x^3$$ نو $P = 2x$ او $Q = x^3$

اوس يي دانتيګرال فکتور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int P dx} = e^{\int 2x\,dx} = e^{x^2}$$

دپورته قيمتونو په لرلوسره دمعادلې عمومي حل په لاندې ډول پیداکوو

$$te^{x^2} = \int x^3 e^{x^2} dx + c$$

$$= \int x.x^2 e^{x^2} dx + c \qquad x^2 = u\,;\ 2xdx = du;\ xdx = \frac{du}{2}$$

$$= \int ue^u du + c$$

$$= ue^u - \int e^u du + c$$

$$= ue^u - e^u + c$$

$$te^{x^2} = (u-1)e^u + c \qquad => \qquad te^{x^2} = (x^2-1)e^{x^2} + c$$

$$\therefore t = (x^2-1) + ce^{-x^2} \qquad t = \tan y$$

$$\tan y = (x^2-1) + ce^{-x^2}$$

يادابنت: پورته مثال $f'(y)\frac{dy}{dx} + f(y)P(x) = Q(x)$ شکل لري، دداډول معادلو دحل لپاره $f(y) = t$ وضعه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم مثال: $x\frac{dy}{dx}-y=x^3\cos x \quad , \quad y(\pi)=0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی راکړل شوي معادله په لاندې ډول لیکو

$$\frac{dy}{dx}-\frac{1}{x}y=x^2\cos x\,, \qquad P=-\frac{1}{x} \quad \text{او} \quad Q=x^2\cos x$$

اوس دراکړل شوي معادلي دحل لپاره دانتیګرال فکټور په لاندې ډول پیداکوو

$$IF=e^{-\int\frac{1}{x}dx}=e^{-\ln x}=e^{\ln\frac{1}{x}}=\frac{1}{x}$$

اوس دمعادلې عمومي حل په لاندې ډول پیداکوو

$$y\frac{1}{x}=\int x^2\cos x\ \cdot\frac{1}{x}dx+c$$

$$\frac{y}{x}=\int x\,.\cos x\,dx+c$$

$$\frac{y}{x}=x\sin x-\int\sin x\cdot 1\,dx+c$$

$$\frac{y}{x}=x\sin x+\cos x+c$$

$$y=x^2\sin x+x\cos x+cx \qquad\qquad x=\pi\,, \qquad y=0$$

$$0=\pi^2\sin\pi+\pi\cos\pi+c\pi$$

$$0=-\pi+c\pi, \qquad c\pi=\pi \quad => \quad c=1$$

پس دمعادلې خصوصي حال په لاندې ډول دی

$$y=x^2\sin x+x\cos x+x$$

تمرینونه:

لاندې تفاضلي معادلي حل کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. $x(x^2+1)\dfrac{dy}{dx} = y(1-x^2) + x^2 \ln x$ 2. $\dfrac{dy}{dx} + y\cot x = \sin x$

3. $x\cos x\dfrac{dy}{dx} + y(x\sin x + \cos x) = 1$ 4. $(1-x^2)\dfrac{dy}{dx} + 2xy = x\sqrt{1-x^2}$

5. $\dfrac{dy}{dx} + y = \sin x$ 6. $(x+1)\dfrac{dy}{dx} - y = e^x(1+x)^2$

7. $\dfrac{dy}{dx} + y\tan x = \sin 2x$ 8. $\dfrac{dy}{dx} + 3y = e^{-x}\cos x$

9. $\dfrac{dy}{dx} = \dfrac{x + y\cos x}{1+\sin x}$ 10. $\dfrac{dy}{dx} + y\cot x = 4x\ cosec\ x$

11. $\dfrac{dy}{dx} - 2y\tan x = \sec^4 x$ 12. $(x+y+1)\dfrac{dy}{dx} = 1$

13. $\dfrac{dy}{dx} - \dfrac{\tan y}{1+x} = (1+x)\, e^x \sec y$ 14. $(x+2y^2)\dfrac{dy}{dx} = y$

15. $y^2 + \left(x - \dfrac{1}{y}\right)\dfrac{dy}{dx} = 0$ $\left(Hint\ reduce\ in\ form\ \ \dfrac{dx}{dy} + P_1 x = Q_1\right)$

16. $(x+1)\dfrac{dy}{dx} + (1+x)y = 2\sin x$ $y(0) = 2$

17. $x\dfrac{dy}{dx} + y = x\cos x + \sin x$ $y\left(\dfrac{\pi}{2}\right) = 1$

18. $\dfrac{dy}{dx} + \dfrac{2x}{x^2+1}y = \dfrac{1}{(x^2+1)^2}$ $y(0) = 0$

1. $\dfrac{[y(x^2+1)]}{x} = \dfrac{1}{2}x^2\ln x - \dfrac{1}{4}x^2 + c$ 2. $y\sin x = \dfrac{1}{2}\ x - \dfrac{1}{4}\sin 2x + c$

3. $y\,x\sec x = \tan x + c$ 4. $\dfrac{y}{(1-x^2)} = \dfrac{1}{\sqrt{1-x^2}} + c$

5. $y = \dfrac{1}{2}\ (\sin x - \cos x) + ce^{-x}$ 6. $y = (x+1)(e^x + c)$

7. $y\sec x = c - 2\cos x$ 8. $y = ce^{-3x} + e^{-x}\left(\dfrac{\sin x + 2\cos x}{5}\right)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



9. $y(1+\sin x)+\frac{x^2}{2}=c$ 10. $y=(2x^2+c)cosec\,x$

11. $y\cos^2 x=c+\tan x$ 12. $x=ce^y-(y+2)$

13. $\sin y=(1+x)(c+e^x)$ 14. $\frac{x}{y}=y^2+c$

15. $x=ce^{\frac{1}{y}}+\frac{1}{y}+1$ 16. $y=\frac{\sin x-\cos x}{1+x}+\frac{3e^{-x}}{1+x}$

17. $y=\sin x$ 18. $y=\frac{\tan^{-1}x}{x^2+1}$

## 1.13 برنولي معادله (Bernoulli’s Equation)

ځيني لومړی ترتيب تفاضلي معادلې دې چې خطي شکل نه لري ، خو دمتحولينو په مناسب تعويض سره کولای شو چې نوموړې معادلې په خطي تفاضلي معادلو باندې تبديلي کړو، يو شکل ددوی څخه دبرنولي معادله هم ده ، کوم چې دسويس رياضي پوه jacob Bernoulli (1654-1705) په واسطه منځ ته راغلي دي، دبرنولي دمعادلې عمومي شکل په لاندې ډول دی

$$\frac{dy}{dx}+P(x)y=Q(x)y^n \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(1), \qquad (n\neq 0\,,\quad n\neq 1)$$

چې P او Q د x تابع دي او يا هم امکان لري چې ثابت عددونه وي، لومړی معادله کولاي شو چې دخطي معادلې په شکل وليکو ، ددې کار لپاره لومړی معادله $y^n$ باندې ويشو، نو لاندې معادله لاسته راکوي

$$y^{-n}\frac{dy}{dx}+P\,y^{1-n}=Q \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(2)$$

اوس په لاندې ډول تعويض اجراکوو

$$y^{1-n}=v \quad => \quad (1-n)y^{-n}\frac{dy}{dx}=\frac{dv}{dx}$$

دپورته قيمتونو په وضعه کولو سره دوهمه معادله لاندې شکل اختياروي

$$\frac{1}{1-n}\frac{dv}{dx}+P\,v=Q \qquad \text{يا} \qquad \frac{dv}{dx}+P(1-n)v=Q(1-n)\;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(3)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه معادله یوه خطي تفاضلي معادله ده ، چې کولای شو نوموړې معادله دانتیګرال دفکتور په پیداکولو سره حل کړو.

عملي مثالونه:

لومړی مثال: $\frac{dy}{dx} - \frac{y}{x} = y^2$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله برنولي معادله ده ، لومړی راکړل شوې معادله په $y^2$ باندې ویشو

$$\frac{1}{y^2}\frac{dy}{dx} - \frac{y^{-1}}{x} = 1 \qquad \text{یا} \qquad y^{-2}\frac{dy}{dx} - \frac{1}{x}y^{-1} = 1$$

اوس دپورته معادلې دحل لپاره په لاندې ډول تعویض اجراکوو

$$y^{-1} = v \qquad => \qquad -y^{-2}\frac{dy}{dx} = \frac{dv}{dx}$$

دپورته قیمتونو په وضعه کولو سره معادله په لاندې خطي تفاضلي معادلې باندې بدلیږي

$$-\frac{dv}{dx} - \frac{1}{x}v = 1 \qquad \text{یا} \qquad \frac{dv}{dx} + \frac{1}{x}v = -1$$

اوس یې دانتیګرال فکتورپه لاندې ډول پیداکوو

$$P = \frac{1}{x}\,, \quad Q = -1 \qquad \text{نو} \qquad IF = e^{\int P dx} = e^{\int \frac{1}{x} dx} = e^{\ln x} = x$$

پس دراکړل شوې معادلې عمومي حل په لاندې ډول دی

$$v\,x = \int -1\,x\,dx + c \qquad \text{یا} \qquad v\,x = -\frac{x^2}{2} + c \qquad \text{یا} \qquad y^{-1}x = -\frac{x^2}{2} + c$$

دوهم مثال: $x\frac{dy}{dx} + y = y^2 \ln x$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی راکړل شوې معادله په لاندې ډول لیکو

$$y^{-2}\frac{dy}{dx} + \frac{1}{x}y^{-1} = \frac{1}{x}\ln x \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

اوس دمعادلې دحل لپاره په لاندې ډول تعویض اجراکوو

$$y^{-1} = v \qquad => \qquad -y^{-2}\frac{dy}{dx} = \frac{dv}{dx}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپورته قیمتونوپه وضعه کولوسره معادله په لاندې خطي تفاضلي معادله باندې بدليږي

$$-\frac{dv}{dx}+\frac{1}{x}v=\frac{1}{x}\ln x \quad \text{يا} \quad \frac{dv}{dx}-\frac{1}{x}v=-\frac{1}{x}\ln x$$

اوس يې دانتيګرال فکتور پيداکوو

$$P=-\frac{1}{x} \quad , \qquad Q=-\frac{1}{x}\ln x \qquad\qquad IF=e^{-\int\frac{1}{x}dx}=e^{-\ln x}=e^{\ln\frac{1}{x}}=x$$

پس دمعادلې عمومي حل په لاندې ډول دی

$$v\cdot\frac{1}{x}=\int-\frac{1}{x}\ln x\cdot\frac{1}{x}dx+c \quad \text{يا} \quad v\,x^{-1}=-\int x^{-2}\ln x+c$$

$$vx^{-1}=-\left[\ln x\frac{x^{-1}}{-1}+\int\frac{1}{x}\cdot\frac{1}{x}dx\right]+c=-\left[-\frac{\ln x}{x}+\frac{x^{-1}}{-1}\right]+c$$

$$yx^{-1}=\ln x\cdot x^{-1}+x^{-1}+c \qquad\qquad y^{-1}=\ln x+1+cx$$

دريم مثال: $\frac{dy}{dx}-2y\tan x=y^2\tan^2 x$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: معادله په $y^2$ باندې ويشو

$$y^{-2}\frac{dy}{dx}-2y^{-1}\tan x=\tan^2 x$$

اوس دمعادلې دحل لپاره په لاندې ډول تعويض اجراکوو

$$y^{-1}=v \quad => \quad -y^{-2}\frac{dy}{dx}=\frac{dv}{dx} \qquad \therefore\ -\frac{dv}{dx}-2v\tan x=\tan^2 x$$

$$\frac{dv}{dx}+2v\tan x=-\tan^2 x \quad , \qquad P=2\tan x \qquad Q=-\tan^2 x$$

دانتيګرال فکتور په لاندې ډول پيداکوو

$$IF=e^{\int Pdx}=e^{\int 2\tan x dx}=e^{2\ln\sec x}=e^{\ln\sec^2 x}=\sec^2 x$$

$$\therefore\ \ v\cdot\sec^2 x=-\int\tan^2 x\sec^2 x\,dx+c$$

$$v\cdot\sec^2 x=-\frac{\tan^3 x}{3}+c \quad \text{يا} \quad \frac{1}{y}\sec^2 x=-\frac{\tan^3 x}{3}+c$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم مثال: $y(2x\,y+e^x)dx - xe^x dy = 0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لومړی راکړل شوې معادله برنولي معادلې په شکل ليکو

$$\frac{dy}{dx} - \frac{y}{x} = \frac{2}{e^x} y^2$$

پورته معادله برنولي معادله ده ، ددې لپاره چې دخطي معادلې په شکل يې وليکو ، نو راکړل شوې معادله به $y^2$ باندې ويشو

$$y^{-2}\frac{dy}{dx} - \frac{y^{-1}}{x} = \frac{2}{e^x} \qquad \text{پس} \quad y^{-1} = v \qquad => \qquad -y^{-2}\frac{dy}{dx} = \frac{dv}{dx}$$

$$-\frac{dv}{dx} - \frac{v}{x} = \frac{2}{e^x} \qquad \text{یا} \qquad \frac{dv}{dx} + \frac{1}{x}v = -\frac{2}{e^x}\ , \qquad P = \frac{1}{x} \qquad Q = -\frac{2}{e^x}$$

$$IF = e^{\int P dx} = e^{\int \frac{1}{x} dx} = e^{\ln x} = x$$

پس دمعادلې عمومي حل عبارت دې له

$$v\,x = -\int 2\,e^{-x}\,x\,dx + c = -2\left[-xe^{-x} + \int e^{-x} dx\right] + c$$

$$= -2[-xe^{-x} - e^{-x}] + c \qquad \text{یا} \qquad \frac{1}{y}x = 2e^{-x}(x+1) + c$$

پنځم مثال: $\frac{dy}{dx} + y\cos x = y^n \sin 2x$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله دبرنولي معادلې په شکل ده ، لومړی راکړل شوي معادله په $y^n$ باندې ويشو

$$y^{-n}\frac{dy}{dx} + y^{1-n}\cos x = \sin 2x \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots.(1)$$

$$y^{1-n} = v \qquad => \qquad (1-n)y^{-n}\frac{dy}{dx} = \frac{dv}{dx}$$

دپورته قيمتونو په وضعه کولوسره لومړی معادله په لاندې خطي معادلې باندې بدليږي

$$\frac{1}{1-n}\frac{dv}{dx} + v\cos x = \sin 2x \qquad \text{یا} \qquad \frac{dv}{dx} + (1-n)\cos x \cdot v = (1-n)\sin 2x$$

$$P = (1-n)\cos x\ , Q = (1-n)\sin 2x$$

$$IF = e^{\int P dx} = e^{\int (1-n) csox} = e^{(1-n)\sin x}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس دمعادلې عمومي حل په لاندې ډول پیداکوو

$$v\, e^{(1-n)\sin x} = \int (1-n)\sin 2x\, e^{(1-n)\sin x}\, dx + c$$

$$(1-n)\sin x = t \qquad => \qquad \cos x\, dx = \frac{1}{n-1} dt$$

$$v\, e^{(1-n)\sin x} = \int (1-n) 2\sin x \cos x\, e^{(1-n)\sin x}\, dx + c$$

$$= \frac{2}{n-1}\int t\, e^t dt + c$$

$$= \frac{2}{n-1}\left[te^t - \int 1 . e^t dt\right] + c$$

$$= \frac{2}{n-1}[t\, e^t - e^t] + c = \frac{2}{n-1}[(t-1)e^t]$$

$$y^{(1-n)} e^{(1-n)\sin x} = \frac{2}{n-1}[(1-n)\sin x - 1]\, e^{(1-n)\sin x} + c$$

$$y^{1-n} = \left\{\frac{2}{n-1}\right\}[(1-n)\sin x - 1] + ce^{-(1-n)\sin x}$$

شپږم مثال: $\frac{dz}{dx} + \frac{z}{x}\ln z = \frac{z}{x^2}(ln\, z)^2$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله په z باندې ویشو، نولاندې نتیجه لاسته راکوي

$$\frac{1}{z}\frac{dz}{dx} + \frac{1}{x}\ln z = \frac{1}{x^2}(\ln z)^2 \qquad y = \ln z \qquad => \qquad \frac{dy}{dx} = \frac{1}{z}\frac{dz}{dx}$$

$$\frac{dy}{dx} + \frac{y}{x} = \frac{y^2}{x^2}$$

پورته معادله دبرنولي معادلي شکل دی، ددې لپاره چې په خطي شکل يې بدله کړو ، نو معادله په $y^2$ باندې ویشو

$$y^{-2}\frac{dy}{dx} + \frac{y^{-1}}{x} = \frac{1}{x^2} \qquad y^{-1} = v \quad => \quad -y^{-2}\frac{dy}{dx} = \frac{dv}{dx}$$

$$-\frac{dv}{dx} + \frac{v}{x} = \frac{1}{x^2} \qquad \text{یا} \qquad \frac{dv}{dx} - \frac{1}{x}v = -\frac{1}{x^2} \qquad P = -\frac{1}{x}\ ,\quad Q = -\frac{1}{x^2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$IF = e^{\int P dx} = e^{-\int \frac{1}{x} dx} = e^{-\ln x} = \frac{1}{x}$$

اوس يې عمومي حل په لاندې ډول پيداکوو

$$v \cdot \frac{1}{x} = \int -\frac{1}{x^2} \cdot \frac{1}{x} dx + c = \frac{1}{2} \cdot \frac{1}{x^2} + c$$

$$\frac{1}{y} \cdot \frac{1}{x} = \frac{1}{2x^2} + cx \qquad y = \ln z$$

$$\therefore \quad \frac{1}{\ln z} = \frac{1}{2x} + cx$$

1.14 تمرينونه:

لاندې تفاضلي معادلات حل کړئ

1. $\dfrac{dy}{dx} - xy = x^3 y^2 \qquad Ans: \quad \dfrac{1}{y^2} = 1 - x^2 + c e^{x^2}$
2. $2\dfrac{dy}{dx} - \dfrac{y}{x} = \dfrac{y^2}{x^2} \qquad Ans: \quad \dfrac{1}{y} = \dfrac{1}{x} - \dfrac{c}{\sqrt{x}}$
3. $xy - \dfrac{dy}{dx} = y^3 e^{-x^2} \qquad Ans: \quad -\dfrac{1}{y^2} e^{x^2} = c - 2x$
4. $\sec^2 y \dfrac{dy}{dx} + 2x \tan y = x^3 \qquad Ans: \quad \tan y \, e^{x^2} = c + \dfrac{1}{2} e^{x^2} (\tan y - 1) \qquad put \tan y = v$
5. $\dfrac{dy}{dx} + \dfrac{y}{x} = y^2 x \qquad Ans: \quad 1 + x^2 y + cxy = 0$
6. $\dfrac{dy}{dx} + y \tan x = y^3 \sec x \qquad Ans: \quad \cos^2 x = y^2 (2 \sin x + c)$
7. $x^3 \dfrac{dy}{dx} + y^4 \cos x = x^2 y \qquad Ans: \quad x^3 = (c + 3 \sin x) y^3$
8. $\dfrac{dy}{dx} + y \cot x = y^2 \sin^2 x \cos^2 x \qquad Ans: \quad \dfrac{1}{y} = \dfrac{1}{3} \sin x \cos^3 x + c \sin x$
9. $\dfrac{dy}{dx} + x \sin 2y = x^3 \cos^2 y \qquad Ans: \quad tany = \dfrac{1}{2}(x^2 - 1) + c e^{-x^2}$
10. $\dfrac{dy}{dx}(x^2 y^3 + xy) = 1 \qquad Ans: \quad \dfrac{1}{x} = 2 - y^2 + c e^{-\frac{y^2}{2}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کاملې تفاضلي معادلې (Exact Differential Equations)

هغه تفاضلي معادلې چې $M(x,y)\,dx + N(x,y)\,dy = 0$ ……………. (1) شکل ولري ، کاملې تفاضلي معادلې ورته وايي ، که چيرته دلومړۍ معادلې چپ طرف ديوې تابع لکه $f(x,y)$ کامل ديفرنسيال وی، يعني $M(x,y)\,dx + N(x,y)\,dy = df$ ، ياپه ساده ډول باندې لومړۍ معادلې ته کامله تفاضلي معادله وايي که چيرته $u(x,y)$ په لاندې ډول موجود وي

$$\frac{\partial u}{\partial x} = M(x,y) \qquad \text{او} \qquad \frac{\partial u}{\partial y} = N(x,y)$$

دمثال په ډول $x\,dy + y\,dx = 0$ تفاضلي معادله په نظر کې نيسو، نوموړې معادله کولای شو چې د $d(xy) = 0$ په شکل وليکو، کوم چې مونږ ته $df = 0$ شکل راښايي ، چې $f$ د $x$ او $y$ تابع ده، دانتيګرال نيوني څخه وروسته $xy = c$ لاسته راځي ، کوم چې دراکړل شوې معادلې عمومي حل دې، داډول معادلوته کاملې تفاضلي معادلې وايي.

قضيه: دلومړۍ معادلې دکامل والي لپاره لازمي اوکافي شرط عبارت له $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ څخه دی.

(i) دلازمي شرط لپاره ثبوت:

فرض کړئ چې لومړۍ معادله کامله ده ، مونږبايد وښايو چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ ، څرنګه چې لومړۍ معادله کامله ده ، نو دتعريف په اساس د $f(x,y)$ يوه تابع موجوده ده دکوم لپاره چې مونږ لاندې معادله لرو

$$df = M(x,y)\,dx + N(x,y)\,dy \quad …………….(2$$

دتيرو رياضياتوپه اساس لرو چې

$$df = \frac{\partial f}{\partial x}dx + \frac{\partial f}{\partial y}dy \quad ………………… (3)$$

ددوهمې او دريمې معادلو دمقايسې په اساس لرو چې

$$M = \frac{\partial f}{\partial x}\,, \quad N = \frac{\partial f}{\partial y} \quad …………(4) \;=>\; \frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial^2 f}{\partial x \partial y}\,, \;\; \frac{\partial N}{\partial x} = \frac{\partial^2 y}{\partial y \partial x}$$

څرنګه چې

$$\frac{\partial^2 f}{\partial x \partial y} = \frac{\partial^2 y}{\partial y \partial x} \qquad \therefore \quad \frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$$

کوم چې لازمي شرط راښايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ii) دکافي شرط لپاره ثبوت:

فرض کړئ چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ ، مونږ باید د $f(x,y)$ یوه تابع پیداکړو ، دکوم لپاره چې لاندې معادله صدق وکړي

$$df = M(x,y)\,dx + N(x,y)\,dy \quad \text{يعني} \quad \frac{\partial f}{\partial x} = M(x,y) \quad \text{او} \quad \frac{\partial f}{\partial y} = N(x,y)$$

مونږ باید د $f(x,y)$ تابع داډول لاسته راوړو ، دکوم لپاره چې څلورمه معادله کې لومړی حالت صدق وکړي، دنوموړی معادلې نظر x ته مشتق اخلو او y ثابت نیسو ، نو مونږ لاندې معادله لاسته راوړو

$$f = \int M(x,y)\ dx + \phi(y) \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots .(5)$$

چې $\phi(y)$ یوه اختیاري تابع د y ده ، اوس $\phi(y)$ داډول انتخابوو چې په څلورمه معادله کې دوهم حالت لپاره هم صدق وکړي ، یعنې $\frac{\partial f}{\partial y} = N(x,y) \ldots\ldots\ldots(6)$ ، اوس د $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ په نظر کې نیولو سره $\phi(y)$ هروخت امکان لري.

د (5) څخه لیکلای شو چې

$$\frac{\partial f}{\partial y} = \frac{\partial}{\partial y}\left[\int M(x,y)dx\right] + \phi'(y) \ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots .(7)$$

د (6) او (7) دمقایسې په اساس لیکلای شو چې

$$\phi'(y) = N(x,y) - \frac{\partial}{\partial y}\int M(x,u)\ dx \ \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots .(8)$$

د (8) چپ طرف د x څخه مستقل دی

راځی چې اوس د (4) حالت لاندې وښایو، x د (8) ښي طرف ته دننه کیدای نه شي ، ددی لپاره مونږ باید وښایو چې د (8) دښي طرف قسمي مشتق صفر دی.

$$\frac{\partial}{\partial x}\left[N - \frac{\partial}{\partial y}\int M(x,y)dx\right] = \frac{\partial N}{\partial x} - \frac{\partial}{\partial x}\left[\frac{\partial}{\partial y}\int M\ dx\right] = \frac{\partial N}{\partial x} - \frac{\partial}{\partial y}\left[\frac{\partial}{\partial x}\int M\ dx\right]$$

$$\frac{\partial}{dx}\int M\ dx = M(x,y) \qquad \frac{\partial}{\partial x}\left[N - \frac{\partial}{\partial y}\int M\ dx\right] = \frac{\partial N}{\partial x} - \frac{\partial M}{\partial y} = 0$$

ځکه $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ اوس د (8) مشتق نظر y اخلو، نو ترلاسه کوو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\phi(y) = \int \left[ N - \frac{\partial}{\partial y} \int M\, dx \right] dy + c \quad \dots\dots\dots\dots\dots\dots (9)$$

چې c یو اختیاري ثابت عدد دی ، اوس که (9) په (5) کې وضعه کړو ، نو غوښتل شوی تابع لاسته راکوي

$$f(x,y) = \int M\, dx + \int \left[ N - \frac{\partial}{\partial y} \int M\, dx \right] dy + c$$

دکومې چې کامل ډیفرنسیال عبارت له $M\,dx + N\,dy$ څخه دی

دکاملوتفاضلي معادلو دحل طریقه:

دداډول معادلو دحل لپاره لومړی باید وښایو چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$

1. د $M(x,y)$ انتیګرال نظر x ته پیداکوو او y ثابت په نظر کې نیسو، لاسته راغلي انتیګرال په $I_1$ سره ښایو.
2. په $N(x,y)$ کې هغه حدونه چې x ونلري ، نظر y ته انتیګرال نیسو او دغه انتیګرال په $I_2$ سره ښایو.
3. $I_1 + I_2 = c$ دراکړل شوې معادلې عمومي حل دی

عملي مثالونه:

لومړی مثال: $(2xy + 3y)\,dx + (x^2 + 3x)\,dy = 0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل:

$M = 2xy + 3y$ او $N = x^2 + 3x$

$\frac{\partial M}{\partial y} = 2x + 3$ او $\frac{\partial N}{\partial x} = 2x + 3$

څرنګه چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ پس راکړل شوی معادله یوه کامله تفاضلي معاده ، اوس یې عمومي حل په لاندې ډول پیداکو

$$\int (2xy + 3y)dx + \int (0)dy = c$$

$2y\frac{x^2}{2} + 3y\,x = c$ یا $x^2y + 3xy = c$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته معادله کولای شو په لاندی ډول حل کړو، چې لومړی دمعادلې چپ طرف دیو کامل ډیفرنسیال په شکل لیکو

$$(2xy\,dx + x^2\,dy) + 3(x\,dy + y\,dx) = 0 \quad \text{یا} \quad d(x^2y) + 3d(xy) = 0$$

دانتیګرال څخه وروسته دراکړل شوې معادلې عمومي حل په لاس راځي

$$x^2y + xy = c$$

دوهم مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$(5x^4 + 3x^2y^2 - 2xy^3)dx + (2x^3y - 3x^2y^2 - 5y^4)dy = 0$$

حل: پوهیږو چې

$$M = 5x^4 + 3x^2y^2 - 2xy^3 \quad \text{او} \quad N = 2x^3y - 3x^2y^2 - 5y$$

$$\frac{\partial M}{\partial y} = 6x^2y - 6xy^2 \quad \text{او} \quad \frac{\partial N}{\partial x} = 6x^2y - 6xy^2$$

څرنګه چې $\frac{\partial N}{\partial x} = \frac{\partial M}{\partial y}$ پس راکړل شوی معادله یوه کامله تفاضلي معاده ، اوس یې عمومي حل په لاندې ډول پیداکو

$$\int (5x^4 + 3x^2y^2 - 2xy^3)dx + \int (-5y^4)dy = c$$

$$x^5 + x^3y^2 - x^2y^3 - y^5 = c$$

دریم مثال: $(e^y + 1)\cos x\ dx + e^y \sin x\, dy = 0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: لیدل کیږي چې

$$M = (e^y + 1)\cos x \quad \text{او} \quad N = e^y \sin x$$

$$\frac{\partial M}{\partial y} = e^y \cos x \quad \text{او} \quad \frac{\partial N}{\partial x} = e^y \cos x$$

څرنګه چې $\frac{\partial N}{\partial x} = \frac{\partial M}{\partial y}$ پس راکړل شوی معادله یوه کامله تفاضلي معاده ، اوس یې عمومي حل په لاندې ډول پیداکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int (e^y + 1)\cos x \;dx + \int (0)\;dy = c \qquad => \qquad (e^y + 1)\sin x = c$$

څلورم مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$\left[y\left(1+\frac{1}{x}\right)+\cos y\right]dx + [x + \ln x - x\sin y]dy = 0$$

حل: پوهیږو چې

$$M = y\left(1+\frac{1}{x}\right)+\cos y \quad \text{او} \quad N = x + \ln x - x\sin y$$

$$\frac{\partial M}{\partial y} = \left(1+\frac{1}{x}\right) - \sin y \quad \text{او} \quad \frac{\partial N}{\partial x} = \left(1+\frac{1}{x}\right) - \sin y$$

څرنګه چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ پس راکړل شوی معادله یوه کامله تفاضلي معاده ، اوس یې عمومي حل په لاندې ډول پیداکو

$$\int \left[y\left(1+\frac{1}{x}\right)+\cos y\right]dx + \int (0)\;dy = c$$

$$yx + y\ln x + x\cos y = c$$

پنځم مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$(2x\ln y)\;dx + \left(\frac{x^2}{y} + 3y^2\right)\;dy = 0$$

حل: لیدل کیږي چې

$$M = 2x\ln y \quad \text{او} \quad N = \frac{x^2}{y} + 3y^2$$

$$\frac{\partial M}{\partial y} = 2x\cdot\frac{1}{y} = \frac{2x}{y} \quad \text{او} \quad \frac{\partial N}{\partial x} = \frac{2x}{y}$$

څرنګه چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ پس راکړل شوی معادله یوه کامله تفاضلي معاده ، اوس یې عمومي حل په لاندې ډول پیداکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int (2x \ln y)\, dx + \int 3y^2 dy = c \qquad => \qquad x^2 \ln y + y^3 = c$$

شپږم مثال: لاندې تفاضلی معادله حل کړئ

$$\left(1 + e^{\frac{x}{y}}\right) dx + e^{\frac{x}{y}} \left(1 - \frac{x}{y}\right) dy = 0$$

حل: لیدل کیږي چې

$$M = \left(1 + e^{\frac{x}{y}}\right) \qquad N = e^{\frac{x}{y}} \left(1 - \frac{x}{y}\right)$$

$$\frac{\partial M}{\partial y} = e^{\frac{x}{y}} \left(-\frac{x}{y^2}\right) \qquad \frac{\partial N}{\partial x} = e^{\frac{x}{y}} \left(-\frac{1}{y}\right) + \left(1 - \frac{x}{y}\right) e^{\frac{x}{y}} \frac{1}{y}$$

$$\frac{\partial N}{\partial x} = -\frac{e^{\frac{x}{y}}}{y} + e^{\frac{x}{y}} \frac{1}{y} - \frac{x}{y^2} e^{\frac{x}{y}} = \left(-\frac{x}{y^2}\right) e^{\frac{x}{y}}$$

څرنګه چې $\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$ پس راکړل شوی معادله یوه کامله تفاضلي معاده ، اوس یې عمومي حل په لاندې ډول پیداکو

$$\int \left(1 + e^{\frac{x}{y}}\right) dx + \int (0) dy = c$$

$$x + \frac{e^{\frac{x}{y}}}{\frac{1}{y}} = c \qquad \text{یا} \qquad x + y\, e^{\frac{x}{y}} = c$$

1.16 تمرینونه

لاندې تفاضلي معادلې حل کړئ

1. $3x(xy - 2)dx + (x^2 + 2y)dy = 0$
2. $y \sin 2x \;\; dx - (1 + y^2 + \cos^2 x)dy = 0$
3. $(x^2 - 2xy + 3y^2)dx + (y^2 + 6xy - x^2)dy$
4. $(y^2 - x^2)dx + 2xy\, dy = 0$
5. $\left(1 + 3e^{\frac{x}{y}}\right) dx + 3e^{\frac{x}{y}} \left(1 - \frac{x}{y}\right) dy = 0$
6. $(y \sec^2 x + \sec x \tan x)dx + (\tan x + 2y)dy = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. $(e^y + 1)\cos x \; dx + e^y \sin x \; dy = 0$

8. $\left(\frac{1}{x} - \frac{1}{x^2 y}\right) dx - \left(\frac{1}{y} + \frac{1}{x^2 y}\right) dy = 0$

9. $\left(x + \frac{y^3}{x^2}\right) dx - 3y^2 dy = 0$

10. $(\cos x - 3x^2 \tan y)dx - x^3 \sec^2 y \; dy = 0$

11. $(ax + hy + g)dx + (hx + by + f)dy = 0$

12. $\left[\cos x \; \log_e(2y - 8) + \frac{1}{x}\right] dx + \frac{\sin x}{y - 4} \; dy = 0 \qquad y(1) = \frac{9}{2}$

جوابونه:

1. $x^3 y - 3x^2 + y^2 = c$

2. $3y \cos 2x + 6y + 2y^3 = c$

3. $x^3 - 3x^2 y + 9xy^2 + y^3 = c$

4. $\frac{x^3}{3} - xy^2 = c$

5. $x + 3ye^{\frac{x}{y}} = c$

6. $y \tan x + \sec x + y^2 = c$

7. $(e^y + 1)\sin x = c$

8. $\text{Ln}\left(\frac{x}{y}\right) + \frac{1}{xy} = c$

9. $x^3 - 2y^3 = cx$

10. $3y \cos 2x + (6y + 2y^3) = c$

11. $ax^2 + 2h\,xy + by^2 + 2gx + 2fy + c$

12. $\text{Sin}\, x \ln(2y - 8) + \ln x = 0$

## 1.17 هغه تفاضلي معادلې چې په کاملو تفاضلو معادلوباندې بدلیږي

په دې برخه کې ځیني معادلې تربحث لاندې نیسو ، کومې چې $Mdx + Ndy = 0$ شکل ولري خو کاملې نه وي، ولې دیوې مناسبې تابع دضربولو څخه وروسته په کاملوتفاضلي معادلوباندې بدلیږي ، چې دغه مناسبې تابع ته دانتیګرال فکټور یا داتمام عامل وایې ، دانتیګرال فکټور دپیداکولو لپاره لاندې قوانین بغیر دثبوت څخه ترڅیړنې لاندې نیسو.

لومړی قانون: که چیرته راکړل شوی تفاضلي معادله یوه متجانسه تفاضلي معادله وي او همدارنګه $Mx + Ny \neq 0$ ، نو $\frac{1}{Mx+Ny}$ عبارت دانتیګرال فکټور څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی مثال: $(x^4+y^4)dx - xy^3dy = 0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله یوه متجانسه تفاضلي معادله ده ، نو لومړی یې دانتیګرال فکتور پیداکوو

$$IF = \frac{1}{Mx+Ny} = \frac{1}{(x^4+y^4)x+(-xy^3)y} = \frac{1}{x^5}$$

اوس راکړل شوې معادله په $\frac{1}{x^5}$ کې ضربوو

$$\left(\frac{1}{x}+\frac{y^4}{x^5}\right)dx - \frac{y^3}{x^4}dy = 0$$

پورته معادله یوه کامله تفاضلي معادله ده او په لاندې ډول یې حل کوو

$$\int\left(\frac{1}{x}+\frac{y^4}{x^5}\right)dx + \int(0)dy = c \qquad => \quad \ln x - \frac{y^4}{4x^4} = c$$

دوهم مثال: $y^2dx + (x^2-xy-y^2)dy = 0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل: راکړل شوې معادله یوه متجانسه تفاضلي معادله ده ، نو دانتیګرال فکتور یې په لاندې ډول پیداکوو

$$IF = \frac{1}{Mx+Ny} = \frac{1}{y^2x+(x^2-xy-y^2)y} = \frac{1}{y(x^2-y^2)}$$

اوس راکړل شوې معادله په لاسته راغلي انتیګرال فکتور کې ضربوو، نو معادله لاندې شکل اختیاروي

$$\frac{y}{x^2-y^2}dx + \left(\frac{1}{y}-\frac{x}{x^2-y^2}\right)dy = 0$$

پورته معادله یوه متجانسه تفاضلي معادله ده ، او په لاندې ډول یې حل کوو

$$\int\frac{y}{x^2-y^2}dx + \int\frac{1}{y}dy = c$$

$y\cdot\frac{1}{2y}\ln\frac{x-y}{x+y} + \ln y = c$ یا $\frac{1}{2}\ln\frac{x-y}{x+y} + \ln y = c$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم قانون: که چیرته $\frac{\frac{\partial M}{\partial y}-\frac{\partial N}{\partial x}}{N}$ یواځې د x تابع وي ، د f(x) په شکل یې فرض کوو، نو $e^{\int f(x)dx}$ عبارت دانتیګرال فکټور څخه دی.

لومړی مثال: $2y\,dx+(2x\ln x-xy)dy=0$ تفاضلي معادله حل کړئ

حل:

$$M=2y \qquad N=2x\ln x-xy$$

$$\frac{\partial M}{\partial y}=2 \qquad \frac{\partial N}{\partial x}=2\left(x\cdot\frac{1}{x}+\ln x\right)-y=2(1+\ln x)-y$$

$$\frac{\frac{\partial M}{\partial y}-\frac{\partial N}{\partial x}}{N}=\frac{2-2-2\ln x+y}{2x\ln x-xy}=\frac{-2\ln x+y}{x(2\ln x-y)}=-\frac{1}{x}=f(x)$$

$$\therefore \quad IF=e^{\int f(x)dx}=e^{-\int\frac{1}{x}dx}=e^{-\ln x}=\frac{1}{x}$$

اوس راکړل شوي معادله په $\frac{1}{x}$ کې ضربوو ، نو ترلاسه کوو

$$\frac{2y}{x}dx+\frac{2x\ln x-xy}{x}dy=0 \quad \text{یا} \quad \frac{2y}{x}dx+(2\ln x-y)dy=0$$

پورته معادله یوه کامله تفاضلي معادله ده ، او په لاندې ډول یې حل کوو

$$\int\frac{2y}{x}dx+\int(-y)dy=c \qquad => \qquad 2y\ln x-\frac{y^2}{2}=c$$

دوهم مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$(6x^2+4y^3+12y)\,dx+3x(1+y^2)\,dy=0$$

حل:

$$M=6x^2+4y^3+12y \qquad N=3x+3xy^2$$

$$\frac{\frac{\partial M}{\partial y}-\frac{\partial N}{\partial x}}{N}=\frac{12y^2+12-3-3y^2}{3x(1+y^2)}=\frac{12(y^2+1)-3(1+y^2)}{3x(1+y^2)}=\frac{3}{x}=f(x)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\therefore \quad IF = e^{\int f(x)dx} = e^{\int \frac{3}{x}dx} = e^{3\ln x} = e^{\ln x^3} = x^3$$

راکړل شوې معادله په $x^3$ کې ضربوو

$$(6x^5 + 4x^3y^3 + 12x^3y)\, dx + 3x^4(1 + y^2)\, dy = 0$$

پورته معادله یوه کامله تفاضلي معادله ده ، نو په لاندې ډول یې حل کوو

$$\int (6x^5 + 4x^3y^3 + 12x^3y)\, dx + \int (0)dy = c$$

$$x^6 + x^4y^3 + 3yx^4 = c$$

دریم قانون: که چېرته $\frac{\frac{\partial N}{\partial x} - \frac{\partial M}{\partial y}}{M}$ د y تابع وي ، او د f(y) په شکل یې وښایو نو $e^{\int (y)dy}$ دانتیګرال فکتور دی.

لومړی مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$(y^4 + 2y)dx + (xy^3 + 2y^4 - 4x)dy = 0$$

حل:

$$M = y^4 + 2y \qquad N = xy^3 + 2y^4 - 4x$$

$$\frac{\partial M}{\partial y} = 4y^3 + 2 \qquad \frac{\partial N}{\partial x} = y^3 - 4$$

$$\frac{\frac{\partial N}{\partial x} - \frac{\partial M}{\partial y}}{M} = \frac{(y^3 - 4) - (4y^3 + 2)}{(y^4 + 2y)} = \frac{-3(y^3 + 2)}{y(y^3 + 2)} = \frac{-3}{y} = f(y)$$

اوس یې دانتیګرال فکتورپه لاندې ډول پیداکوو

$$IF = e^{\int (y)dy} = e^{-\int \frac{3}{y}} = e^{-3\ln y} = e^{-\ln y^3} = \frac{1}{y^3}$$

اوس راکړل شوې معادله په $\frac{1}{y^3}$ کې ضربوو ، نو ترلاسه کوو

$$\left(y + \frac{2}{y^2}\right) dx + \left(x + 2y - \frac{4x}{y^3}\right) dy = 0$$

پورته معادله یوه متجانسه معادله ده ، نو عمومي حل یې په لاندې ډول دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\int \left(y + \frac{2}{y^2}\right) dx + \int 2y\, dy = c$$

$$xy + \frac{2x}{y^2} + y^2 = c \quad \text{یا} \quad x\left(y + \frac{2}{y^2}\right) y + y^2 = c$$

ځلورم قانون : که چېرته راکړل شوې معادله د $f_1(x,y)y\,dx + f_2(x,y)x\,dy = 0$ شکل ولري، چې $M = f_1(x,y)y$ او $N = f_2(x,y)x$ وي او $Mx - Ny \neq 0$ نو په دې صورت کې $\frac{1}{Mx-Ny}$ عبارت دانتیګرال فکټور څخه دی.

مثال: لاندې تفاضلي معادله حل کړئ

$$y(1+2xy)\,dx + x(1-xy)\,dy = 0$$

حل:

$$M = yf_1(x,y) \qquad N = xf_2(x,y)$$
$$M = y(1+2xy) \quad N = x(1-xy)$$

$$Mx - Ny = xy(1+2xy) - xy(1-xy) = xy + 2x^2y^2 - xy + x^2y^2$$

$$Mx - Ny = 3x^2y^2 \neq 0$$

پس دراکړل شوې معادلې دانتیګرال فکټور عبارت دی له

$$IF = \frac{1}{Mx - Ny} = \frac{1}{3x^2y^2}$$

راکړل شوې معادله په $\frac{1}{3x^2y^2}$ کې ضربوو، نو ترلاسه کوو چې

$$\left(\frac{1}{3x^2y} + \frac{2}{3x}\right) dx + \left(\frac{1}{3xy^2} - \frac{1}{3y}\right) dy = 0$$

پورته معادله یوه متجانسه معادله ده او عمومي حل یې په لاندې ډول دی

$$\int \left(\frac{1}{3x^2y} + \frac{2}{3x}\right) dx + \int -\frac{1}{3y}\, dy = c$$

$$-\frac{1}{3xy} + \frac{2}{3}\ln x - \frac{1}{3}\ln y = c \quad \text{یا} \quad -\frac{1}{xy} + 2\ln x - \ln y = k \qquad (k = 3c)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم قانون : که چېرته معادله د $x^a y^b(my\,dx + nx\,dy) + x^c y^d(py\,dx + qx\,dy) = 0$ چې $p, d, c, n, m, b, a$ او $q$ ثابت عددونه دي شکل ولري، نو دراکړل شوي معادلي دانتیګرال فکټور عبارت د $x^h y^k$ څخه دی ، د $k$ او $h$ دلاسته راوړلو لپاره لومړی راکړل شوې معادله په $x^h y^k$ کې ضربوو ، ترڅو معادله په کامله تفاضلي معادله باندې بدله شي ، بیا یې د کامل والي دشرط څخه په استفادی سره ، دضریبونو دمقایسي څخه د $k$ او $h$ قیمتونه لاسته راوړو، دغه موضوع په لاندې مثال کې واضح کوو

مثال: $(y^2 + 2x^2 y)dx + (2x^3 - xy)\,dy = 0$ معادله حل کړئ

حل: لومړی راکړل شوې معادله په لاندې ډول لیکو

$$y(y\,dx - x\,dy) + x^2(2y\,dx + 2x\,dy) = 0$$

اوس راکړل شوې معادله په $x^h y^k$ کې ضربوو ، نو ترلاسه کوو

$$(x^h y^{k+2} + 2x^{h+2} y^{k+1})dx + (2x^{h+2} y^k - x^{h+1} y^{k+1})dy = 0 \quad \ldots\ldots\ldots(1)$$

پورته معادله باید یوه کامله تفاضلي معادله وي

$$M = x^h y^{k+2} + 2x^{h+2} y^{k+1} \quad , \quad N = 2x^{h+2} y^k - x^{h+1} y^{k+1}$$

څرنګه چې لومړئ معادله کامله ده ، نو لروچې

$$\frac{\partial M}{\partial y} = \frac{\partial N}{\partial x}$$

$$(k+2)x^h y^{k+1} + 2(k+1)x^{h+2} y^k = 2(h+3)x^{h+2} y^k - (h+1)x^h y^{k+1}$$

دپورته عینیت دضریبونو د مساوات څخه لرو چې

$k + 2 = -(h+1)$ او $2(k+1) = 2(h+3)$

یعنې $h + k = -3$ او $h - k = -2$

دپورته سیستم دحل څخه د $h$ او $k$ قیمتونه عبارت دي له

$$h = -\frac{5}{2} \qquad k = -\frac{1}{2} \qquad \therefore \quad IF = x^{-\frac{5}{2}} y^{-\frac{1}{2}}$$

اوس راکړل شوې معادله په $x^{-\frac{5}{2}} y^{-\frac{1}{2}}$ کې ضربوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\left(x^{-\frac{5}{2}}y^{\frac{3}{2}}+2x^{-\frac{1}{2}}y^{-\frac{1}{2}}\right)dx+\left(2x^{\frac{1}{2}}y^{-\frac{1}{2}}+x^{-\frac{3}{2}}y^{\frac{1}{2}}\right)dy=0$$

پورته معادله یوه متجانسه معادله ده ، او عمومي حل يې په لاندې ډول دی

$$y^{\frac{3}{2}}\left(-\frac{2}{3}x^{-\frac{3}{2}}\right)+2y^{\frac{1}{2}}\left(2x^{\frac{1}{2}}\right)=c \quad \text{يا} \quad 6x^{\frac{1}{2}}y^{\frac{1}{2}}-x^{-\frac{3}{2}}y^{\frac{3}{2}}=c$$

1.18

لاندې تفاضلي معادلې حل کړئ

1. $(x^2-3xy+2y^2)\,dx+x(3x-2y)\,dy=0$
2. $(x^2y-2xy^2)\;dx+2y\,dy=0$
3. $(xy-y^2)\,dx-x^2dy=0$
4. $(x^2+y^2+2x)\,dx+2y\,dy=0$
5. $(3xy-2ay^2)\,dx+(x^2-2ayx)\,dy=0$
6. $(x^3-2y^2)\,dx+2y\,dy=0$
7. $(xy^2-x^2)\,dx+(3x^2y^2+x^2y-2x^3+y^2)\,dy=0$
8. $(y^4+2y)\,dx+(xy^3+2y^4-4x)\,dy=0$
9. $(xy^2+y)\,dx+2(x^2y^2+x+y^4)\,dy=0$
10. $(xy\sin xy+\cos xy)y\,dx+(xy\sin xy-\cos xy)x\,dy=0$
11. $(x^2y^2+xy+1)\,y\,dx+(x^2y^2-xy+1)x\,dy=0$
12. $(2y\,dx+3x\,dy)+2xy(3ydx+4xdy)=0$

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**